## کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | : خوږه ژبه |
| لیکوال | : عبدالرحیم مسلم دوست |
| شمیر | : ۱۰۰۰ ټوکه |
| د خپرېدو نېټه | : ذوالحجة/ ۱٤۲۱ هـ سپوږمیز، کب/ ۱۳۷۹ هجري لمریز |
| کمپوزر | : رفیع الله |
| کمپیوټر | : نصیر لیزر کمپیوټر، ۱۲٤ اتاق، دوهم منزل، گل حاجي پلازه، یونیورستی روډ، پېښور، فون: 43861 او 294861 -0320. |
| چاپ ځی | : سبا کتابتون، ډهکی نعلبندی، قصه خوانی بازار، پېښور. فون: 2565520 U. P.O.Box# 795 Emil: nlcc@pes.comsats.net.pk |


د کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي.

پته: G.P.O.Box# 532 پېښور.

ټیلفون: ۸٤٤٤۵۵ -۰۹۱ / 844455 -091.

Download From: Aghalibrary.com

# لـــړليـــک


| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ١ | **سريزه** | ١ |
| ٢ | فصاحت | ٩ |
| ٣ | د فصاحت لغوي معنا | ٩ |
| ٤ | د فصاحت اصطلاحي معنا | ١٠ |
| ٥ | په کلمې کې فصاحت | ١٠ |
| ٦ | تنافر | ١٠ |
| ٧ | غرابت | ١١ |
| ٨ | د قياس مخالفت | ١١ |
| ٩ | په کلام کې فصاحت | ١٢ |
| ١٠ | د ترکيب ضعف | ١٢ |
| ١١ | د کلمو تنافر | ١٢ |
| ١٢ | تعقيد | ١٣ |
| ١٣ | تکرار او د اضافتونو زيا توالی | ١٣ |
| ١٤ | په متکلم کې فصاحت | ١٣ |
| ١٥ | بلاغت | ١٦ |
| ١٦ | د بلاغت لغوی معنا | ١٦ |
| ١٧ | د بلاغت اصطلاحي معنا | ١٦ |
| ١٨ | په کلام کې بلاغت | ١٦ |
| ١٩ | په متکلم کې بلاغت | ١٧ |
| ٢٠ | **معانی** | ١٩ |
| ٢١ | د معاني لغوي معنا | ١٩ |
| ٢٢ | د معاني اصطلاحي معنا | ١٩ |
| ٢٣ | د کلام ډولونه | ٢٠ |
| ٢٤ | خبر | ٢٠ |
| ٢٥ | مخاطب سره د خبرو کولو څرنگوالی | ٢٢ |
| ٢٦ | تأکيد (ټينگار) | ٢٤ |
| ٢٧ | إنشاء | ٢٥ |
| ٢٨ | أمر | ٢٧ |
| ٢٩ | نهی | ٢٩ |
| ٣٠ | إستفهام | ٣١ |
| ٣١ | تمني | ٣٦ |
| ٣٢ | نداء | ٣٧ |

| ګڼه | سرليک | مخ | ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | مبتدا او خبر | ۳۹ | ۵۵ | وصل او فصل | ۹۳ |
| ۳٤ | ذکر او حذف | ٤٠ | ۵٦ | ايجاز | ۹۵ |
| ۳۵ | د کلام جوړښت | ٤۳ | ۵۷ | د قصر ايجاز | ۹۵ |
| ۳٦ | نوم | ٤٤ | ۵۸ | د حذف ايجاز | ۹٦ |
| ۳۷ | فعل (کړ) | ٤۵ | ۵۹ | إطناب | ۹۸ |
| ۳۸ | ضمير (ګوته‌لک) | ٤٦ | ٦٠ | د إطناب ډولونه | ۹۹ |
| ۳۹ | برخيز (ادات) | ٤٦ | ٦۱ | تطويل | ۱۰۱ |
| ٤٠ | د تأکيد برخيزونه | ٤۷ | ٦۲ | حشو | ۱۰۲ |
| ٤۱ | د پښتو ځينې نور برخيزونه... | ٤۹ | ٦۳ | مساوات | ۱۰۳ |
| | | | ٦٤ | إلتفات | ۱۰۳ |
| ٤۲ | د تصغير برخيزونه | ۷٠ | ٦۵ | تجاهل العارف | ۱۰٤ |
| ٤۳ | نيمګړي فعلونه | ۷۳ | ٦٦ | قلب (چپه کول) | ۱۰۵ |
| ٤٤ | په حال او نږدې ماضي کې... | ۷۳ | ٦۷ | د مضارع په ځای ماضي | ۱۰٦ |
| ٤۵ | په ليرې ماضي کې... | ۷٦ | ٦۸ | تغليب | ۱۰٦ |
| ٤٦ | د امر او نهې نيمخيزونه | ۷۹ | ٦۹ | بيان | ۱۰۷ |
| ٤۷ | د راتلونکي... | ۷۹ | ۷٠ | د بيان لغوي معنا | ۱۰۷ |
| ٤۸ | فعل او فاعل | ۸۱ | ۷۱ | د بيان اصطلاحي معنا | ۱۰۷ |
| ٤۹ | مصدر | ۸۲ | ۷۲ | تشبيه | ۱۰۸ |
| ۵٠ | مفعول | ۸۳ | ۷۳ | د تشبيه بنسټونه | ۱۰۹ |
| ۵۱ | صفت او موصوف | ۸٤ | ۷٤ | د تشبيه برخيزونه | ۱۱٠ |
| ۵۲ | ژبدود ته پاملرنه | ۸۵ | ۷۵ | د تشبيه ډولونه | ۱۱۲ |
| ۵۳ | مضاف اليه او مضاف | ۸۹ | ۷٦ | لومړی ويش | ۱۱۲ |
| ۵٤ | مطلق او مقيد | ۹٠ | ۷۷ | حسي تشبيه | ۱۱۲ |

| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۷۸ | خیالي تشبیه | ۱۱٤ |
| ۷۹ | وهمي تشبیه | ۱۱٤ |
| ۸۰ | دوهم وېش | ۱۱۵ |
| ۸۱ | درېیم وېش | ۱۱٦ |
| ۸۲ | ملفوف | ۱۱٦ |
| ۸۳ | مفروق | ۱۱٦ |
| ۸٤ | تسویه | ۱۱۷ |
| ۸۵ | جمعه | ۱۱۷ |
| ۸٦ | د تشبیه څلورم وېش | ۱۱۸ |
| ۸۷ | تمثیل تشبیه | ۱۱۸ |
| ۸۸ | نابېلګېزه تشبیه | ۱۱۹ |
| ۸۹ | شیندلي تشبیه | ۱۱۹ |
| ۹۰ | رېښلي تشبیه | ۱۲۰ |
| ۹۱ | نږدې سپکه تشبیه | ۱۲۰ |
| ۹۲ | لرې تشبیه | ۱۲۱ |
| ۹۳ | د تشبیه پنځم وېش | ۱۲۲ |
| ۹٤ | مرسل تشبیه | ۱۲۲ |
| ۹۵ | مؤکده تشبیه | ۱۲۲ |
| ۹٦ | بلیغه تشبیه | ۱۲۲ |
| ۹۷ | د تشبیه شپږم وېش | ۱۲۳ |
| ۹۸ | ترخنې تشبیه | ۱۲۳ |
| ۹۹ | سرچپه تشبیه | ۱۲۳ |
| ۱۰۰ | د تشبیه ګټې | ۱۲٤ |
| ۱۰۱ | د تشبیه ځینې بېلګې | ۱۲٤ |
| ۱۰۲ | عیبجنه تشبیه | ۱۲۵ |
| ۱۰۳ | مجاز | ۱۲۸ |
| ۱۰٤ | لغوی مفرد مرسل مجاز | ۱۳۰ |
| ۱۰۵ | د سبب نه مسبب اخیستل | ۱۳۱ |
| ۱۰٦ | د مسبب نه سبب اخیستل | ۱۳۱ |
| ۱۰۷ | د لازم نه ملزوم اخیستل | ۱۳۲ |
| ۱۰۸ | د ملزوم نه لازم اخیستل | ۱۳۲ |
| ۱۰۹ | د کل نه جزء اخیستل | ۱۳۲ |
| ۱۱۰ | د جزء نه کل اخیستل | ۱۳۳ |
| ۱۱۱ | د آلې نه د هغې اغېزه اخیستل | ۱۳۳ |
| ۱۱۲ | د عام نه خاص اخیستل | ۱۳٤ |
| ۱۱۳ | د خاص نه عام اخېستل | ۱۳٤ |
| ۱۱٤ | د تېرې زمانې له مخې | ۱۳٤ |
| ۱۱۵ | د راتلونکې زمانې له مخې | ۱۳۵ |
| ۱۱٦ | د ظرف نه مظروف اخیستل | ۱۳۵ |
| ۱۱۷ | د مظروف نه ظرف اخیستل | ۱۳٦ |
| ۱۱۸ | د بدل اړیکې | ۱۳٦ |
| ۱،۱۹ | د عوض اړیکې | ۱۳٦ |
| ۱۲۰ | د ګاونډیتوب اړیکې | ۱۳٦ |
| ۱۲۱ | اشتقاقي اړیکې | ۱۳۷ |
| ۱۲۲ | استعاره | ۱۳۸ |

| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱۲۳ | د استعارې بنسټونه | ۱۳۹ |
| ۱۲٤ | د استعارې لومړی وېش | ۱٤۰ |
| ۱۲۵ | تصريحي استعاره | ۱٤۱ |
| ۱۲٦ | کنايي او خيالي استعاره | ۱٤۲ |
| ۱۲۷ | د استعارې دوهم وېش | ۱٤۳ |
| ۱۲۸ | تحقيقي حسي استعاره | ۱٤۳ |
| ۱۲۹ | تحقيقي عقلي استعاره | ۱٤۳ |
| ۱۳۰ | د استعارې دريم وېش | ۱٤٤ |
| ۱۳۱ | أصليه | ۱٤٤ |
| ۱۳۲ | تصريحي تبعيه | ۱٤۵ |
| ۱۳۳ | کنايي تبعيه | ۱٤۵ |
| ۱۳٤ | د استعارې څلورم وېش | ۱٤٦ |
| ۱۳۵ | عناديه | ۱٤٦ |
| ۱۳٦ | وفاقيه | ۱٤٦ |
| ۱۳۷ | د استعارې پنځم وېش | ۱٤۷ |
| ۱۳۸ | تمليحيه | ۱٤۷ |
| ۱۳۹ | تهكّميه | ۱٤۷ |
| ۱٤۰ | د استعارې شپږم وېش | ۱٤۸ |
| ۱٤۱ | عاميه مبتذله | ۱٤۸ |
| ۱٤۲ | خاصيه غريبه | ۱٤۹ |
| ۱٤۳ | د استعارې اووم وېش | ۱٤۹ |
| ۱٤٤ | مطلقه استعاره | ۱۵۰ |
| ۱٤۵ | مرشحه استعاره | ۱۵۰ |
| ۱٤٦ | مجرده استعاره | ۱۵۱ |
| ۱٤۷ | تمثيلي استعاره | ۱۵۱ |
| ۱٤۸ | مرکب مرسل مجاز | ۱۵۳ |
| ۱٤۹ | کنايه | ۱۵٤ |
| ۱۵۰ | د کنايې لومړی وېش | ۱۵۵ |
| ۱۵۱ | د صفت نه کنايه | ۱۵۵ |
| ۱۵۲ | د موصوف نه کنايه | ۱۵٦ |
| ۱۵۳ | د نسبت نه کنايه | ۱۵٦ |
| ۱۵٤ | د کنايې دوهم وېش | ۱۵٦ |
| ۱۵۵ | نږدې کنايه | ۱۵۷ |
| ۱۵٦ | ليرې کنايه | ۱۵۷ |
| ۱۵۷ | د کنايې دريم وېش | ۱۵۸ |
| ۱۵۸ | تعريض | ۱۵۸ |
| ۱۵۹ | تلويح | ۱۵۹ |
| ۱٦۰ | رمز | ۱۵۹ |
| ۱٦۱ | إيماء | ۱٦۰ |
| ۱٦۲ | محاکات | ۱٦۱ |
| ۱٦۳ | بديع | ۱٦۲ |
| ۱٦٤ | د بديع لغوي معنا | ۱٦۲ |
| ۱٦۵ | د بديع اصطلاحي معنا | ۱٦۳ |
| ۱٦٦ | د بديع ډولونه | ۱٦٤ |
| ۱٦۷ | لفظي صنايع | ۱٦٤ |
| ۱٦۸ | جناس | ۱٦٤ |

| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱۶۹ | د لفظي جناس ډولونه | ۱۶۵ |
| ۱۷۰ | تام جناس | ۱۶۵ |
| ۱۷۱ | مماثل جناس | ۱۶۵ |
| ۱۷۲ | مستوفي جناس | ۱۶۶ |
| ۱۷۳ | نیمګړی جناس | ۱۶۶ |
| ۱۷۴ | مردوف جناس | ۱۶۷ |
| ۱۷۵ | مکتنف جناس | ۱۶۷ |
| ۱۷۶ | یوستوی مطرف جناس | ۱۶۸ |
| ۱۷۷ | مذیل جناس | ۱۶۸ |
| ۱۷۸ | غبرګ مطرف جناس | ۱۶۹ |
| ۱۷۹ | مضارع جناس | ۱۶۹ |
| ۱۸۰ | لاحق جناس | ۱۷۰ |
| ۱۸۱ | محرف جناس | ۱۷۰ |
| ۱۸۲ | مصحف جناس | ۱۷۱ |
| ۱۸۳ | مرکب جناس | ۱۷۱ |
| ۱۸۴ | مرفو جناس | ۱۷۲ |
| ۱۸۵ | مقرون جناس | ۱۷۲ |
| ۱۸۶ | مفروق جناس | ۱۷۳ |
| ۱۸۷ | مقلوب جناس | ۱۷۳ |
| ۱۸۸ | چپه جناس | ۱۷۴ |
| ۱۸۹ | رد او بدل جناس | ۱۷۴ |
| ۱۹۰ | مستوي جناس | ۱۷۵ |
| ۱۹۱ | تصحیف | ۱۷۵ |
| ۱۹۲ | سجعه | ۱۷۶ |
| ۱۹۳ | مطرف سجعه | ۱۷۶ |
| ۱۹۴ | مرصع سجعه | ۱۷۷ |
| ۱۹۵ | متوازي سجعه | ۱۷۷ |
| ۱۹۶ | ازدواج | ۱۷۸ |
| ۱۹۷ | تشریع | ۱۷۸ |
| ۱۹۸ | ترافق | ۱۸۱ |
| ۱۹۹ | موازنه | ۱۸۲ |
| ۲۰۰ | ترصیع | ۱۸۲ |
| ۲۰۱ | لزوم مالایلزم | ۱۸۲ |
| ۲۰۲ | دوداړخیز | ۱۸۳ |
| ۲۰۳ | واز | ۱۸۴ |
| ۲۰۴ | لغز (غیر منقوطه) | ۱۸۵ |
| ۲۰۵ | قبیح او ملیح | ۱۸۶ |
| ۲۰۶ | پوخلی (منقوطه) | ۱۸۶ |
| ۲۰۷ | پاسنی (فوقانیه) | ۱۸۷ |
| ۲۰۸ | لاندینی (تحتانیه) | ۱۸۸ |
| ۲۰۹ | تضمین | ۱۸۹ |
| ۲۱۰ | ذوالقافیتین (دوه قافیز) | ۱۸۹ |
| ۲۱۱ | ذو القوافي (بارانی) | ۱۹۰ |
| ۲۱۲ | تکرار (غبرګون) | ۱۹۲ |
| ۲۱۳ | سوال او ځواب | ۱۹۲ |
| ۲۱۴ | مربع (څلکوری) | ۱۹۵ |

| ګڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۲۱۵ | تلمیع | ۱۹۶ |
| ۲۱۶ | توشیح | ۱۹۷ |
| ۲۱۷ | د شعر د یوه بیت وبش | ۱۹۹ |
| ۲۱۸ | رد العجز | ۲۰۰ |
| ۲۱۹ | رد العجز علی الصدر | ۲۰۱ |
| ۲۲۰ | رد العجز علی العروض | ۲۰۳ |
| ۲۲۱ | رد العجز علی الإبتداء | ۲۰٤ |
| ۲۲۲ | رد العجز علی الحشو | ۲۰٦ |
| ۲۲۳ | مالا یستحیل بالإنعکاس | ۲۰۹ |
| ۲۲٤ | موأربه | ۲۰۹ |
| ۲۲۵ | اطراد | ۲۱۰ |
| ۲۲٦ | تسمیط | ۲۱۱ |
| ۲۲۷ | انسجام او سهولت | ۲۱۱ |
| ۲۲۸ | إکتفاء | ۲۱۲ |
| ۲۲۹ | معنوي صنایع | ۲۱۲ |
| ۲۳۰ | توریه | ۲۱۲ |
| ۲۳۱ | د توریې دولونه | ۲۱۳ |
| ۲۳۲ | مجرده توریه | ۲۱۳ |
| ۲۳۳ | مرشحه توریه | ۲۱٤ |
| ۲۳٤ | مبینه توریه | ۲۱٤ |
| ۲۳۵ | مهیأه توریه | ۲۱۵ |
| ۲۳٦ | استخدام | ۲۱۵ |
| ۲۳۷ | افتنان | ۲۱٦ |
| ۲۳۸ | استطراد | ۲۱٦ |
| ۲۳۹ | مقابله | ۲۱۷ |
| ۲٤۰ | طباق | ۲۱۷ |
| ۲٤۱ | إرصاد | ۲۱۸ |
| ۲٤۲ | مراعاة النظیر | ۲۱۹ |
| ۲٤۳ | عقلي استدلال | ۲۱۹ |
| ۲٤٤ | ادماج | ۲۲۰ |
| ۲٤۵ | حسن التعلیل | ۲۲۱ |
| ۲٤٦ | مشاکله | ۲۲۱ |
| ۲٤۷ | تجرید | ۲۲۲ |
| ۲٤۸ | لف او نشر | ۲۲۲ |
| ۲٤۹ | مرتب لف او نشر | ۲۲۳ |
| ۲۵۰ | غیر مرتب لف او نشر | ۲۲٤ |
| ۲۵۱ | معکوس لف او نشر | ۲۲٤ |
| ۲۵۲ | مزاوجه | ۲۲۵ |
| ۲۵۳ | جمعه | ۲۲٦ |
| ۲۵٤ | تفریق | ۲۲٦ |
| ۲۵۵ | تقسیم | ۲۲۷ |
| ۲۵٦ | تفریق سره جمع | ۲۲۷ |
| ۲۵۷ | جمعې سره تقسیم | ۲۲۸ |
| ۲۵۸ | مغایره | ۲۲۸ |
| ۲۵۹ | مبالغه | ۲۲۹ |
| ۲٦۰ | تبلیغ | ۲۲۹ |

| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۲۶۱ | إغراق | ۲۲۹ |
| ۲۶۲ | غلو | ۲۳۰ |
| ۲۶۳ | د غندنې په رنگ کې ستاینه | ۲۳۰ |
| ۲۶۴ | د ستاینې په رنگ کې غندنه | ۲۳۱ |
| ۲۶۵ | القول بالموجب | ۲۳۲ |
| ۲۶۶ | توجیه یا محتمل الضدین | ۲۳۲ |
| ۲۶۷ | استتباع | ۲۳۳ |
| ۲۶۸ | سلب او ایجاب | ۲۳۳ |
| ۲۶۹ | د حکمت چار | ۲۳۴ |
| ۲۷۰ | إبداع | ۲۳۵ |
| ۲۷۱ | عکس او بدلون | ۲۳۷ |
| ۲۷۲ | رجوع | ۲۳۷ |
| ۲۷۳ | سنجیده توکه | ۲۳۸ |
| ۲۷۴ | تفریع | ۲۳۸ |
| ۲۷۵ | تجاهل العارف | ۲۳۹ |
| ۲۷۶ | معما یا لغز (اړ) | ۲٤۰ |
| ۲۷۷ | د ابجدو حساب | ۲٤۲ |
| ۲۷۸ | د ابجدو اړونه | ۲٤۳ |
| ۲۷۹ | تلمیح | ۲٤۷ |
| ۲۸۰ | تخلص | ۲٤۷ |
| ۲۸۱ | براعة الإستهلال | ۲٤۸ |
| ۲۸۲ | براعة الطلب | ۲٤۹ |
| ۲۸۳ | براعة المقطع | ۲۵۰ |
| ۲۸٤ | حاضر جوابي | ۲۵۱ |
| ۲۸۵ | طنز | ۲۵۲ |
| ۲۸۶ | مزاحیه | ۲۵٤ |
| ۲۸۷ | شعري غلاوې | ۲۵۵ |
| ۲۸۸ | نسخه | ۲۵۶ |
| ۲۸۹ | کټ مټ | ۲۵۶ |
| ۲۹۰ | ورته | ۲۵۷ |
| ۲۹۱ | سرچپه | ۲۵۷ |
| ۲۹۲ | مسخه | ۲۵۸ |
| ۲۹۳ | ممدوح | ۲۵۸ |
| ۲۹٤ | مساوي | ۲۵۹ |
| ۲۹۵ | مذموم | ۲۶۰ |
| ۲۹۶ | سلخه | ۲۶۰ |
| ۲۹۷ | ممدوح | ۲۶۱ |
| ۲۹۸ | مساوي | ۲۶۱ |
| ۲۹۹ | مذموم | ۲۶۲ |
| ۳۰۰ | توارد | ۲۶۳ |
| ۳۰۱ | اقتباس | ۲۶٤ |
| ۳۰۲ | عقد | ۲۶٤ |
| ۳۰۳ | حل | ۲۶۵ |
| ۳۰٤ | تضمین | ۲۶۵ |
| ۳۰۵ | **دپښتو شعر دولونه** | **۲۶۶** |
| ۳۰۶ | لومړی: غروضي شعرونه | ۲۶۷ |

| ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۳۰۷ | حمد | ۲۶۸ |
| ۳۰۸ | مناجات | ۲۷۰ |
| ۳۰۹ | نعت | ۲۷۳ |
| ۳۱۰ | مرثيه (ويرنه) | ۲۷۵ |
| ۳۱۱ | مدحه (ستاينه) | ۲۷۷ |
| ۳۱۲ | هجو (غندنه) | ۲۷۹ |
| ۳۱۳ | وياړنه | ۲۸۰ |
| ۳۱۴ | حماسي شعر | ۲۸۲ |
| ۳۱۵ | د جوړښت له مخې | ۲۸۳ |
| ۳۱۶ | غزل نسيب او تشبيب | ۲۸۳ |
| ۳۱۷ | د بند ترجيع | ۲۸۶ |
| ۳۱۸ | د بند ترکيب | ۲۸۷ |
| ۳۱۹ | مثنوي (دوه ييز) | ۲۸۹ |
| ۳۲۰ | مثلث (دريیز) | ۲۹۰ |
| ۳۲۱ | مربع (څلوريز) | ۲۹۱ |
| ۳۲۲ | مخمس (پنځيز) | ۲۹۳ |
| ۳۲۳ | مسدس (شپږيز) | ۲۹۴ |
| ۳۲۴ | مسبع (اوه ييز) | ۲۹۵ |
| ۳۲۵ | مثمن (اته ييز) | ۲۹۶ |
| ۳۲۶ | متسع (نهه ييز) | ۲۹۷ |
| ۳۲۷ | معشر (لسيز) | ۲۹۸ |
| ۳۲۸ | رباعي (څلوريزه) | ۲۹۹ |
| ۳۲۹ | قطعه (پارکی) | ۳۰۰ |
| ۳۳۰ | بولله (قصيده) | ۳۰۳ |
| ۳۳۱ | مستزاد | ۳۰۶ |
| ۳۳۲ | آزاد نظم | ۳۰۷ |
| ۳۳۳ | معرّیٰ (لغړ) نظم | ۳۱۱ |
| ۳۳۴ | دوهم: ملي شعرونه | ۳۱۲ |
| ۳۳۵ | لنډۍ | ۳۱۳ |
| ۳۳۶ | بدله يا چاربيته | ۳۱۹ |
| ۳۳۷ | لوبه او بګتۍ | ۳۲٤ |
| ۳۳۸ | غاړې يا نارې | ۳۲۶ |
| ۳۳۹ | نيمکۍ، سروکۍ او ټيکۍ | ۳۲۸ |
| ۳٤۰ | کيسه، حکايت او داستان | ۳۲۹ |
| ۳٤۱ | نامه | ۳۳۱ |
| ۳٤۲ | ديوان | ۳۳۵ |
| ۳٤۳ | کليات | ۳۳۶ |
| ۳٤٤ | هايکو | ۳۳۷ |
| ۳٤۵ | **د شاعر دولونه** | **۳۳۸** |
| ۳٤۶ | **پای** | **۳۳۹** |

په دې وروستیو کې ځینې خلک د معلوماتو د نیمګړتیا له امله د معانیو، بیان او بدیع علم ته پاملرنه نه کوي او ښه ورته نه بریښي خو دا خبره صحیح نه ده او په دې علومو پوهه ډېره زیاته ګټوره ده.

که مونږ د مخکنیو نومیالیو لکه: عبدالرحمن بابا، خوشحال ختک، عبدالحمید بابا او نورو د کتابونو ژورد مطالعه وکړو دا به راته جوته شي چې هغوی له دې علومو څه څومره ګټه پورته کړې ده!؟

په وروستنیو کې هم د مشهورو شاعرانو کلام له دې څخه خالي نه دی، نو په کار دا ده چې لیکوالان او شاعران له دې علومو سره اشنا وي ترڅو ترې ګټه پورته کړي.

د معاني، بیان او بدیع بنسټونه په هرې ژبې کې شته څه نسبي توپیر ارومرو لري خو اساسي بنسټونه د ډیرو ژبو تر ډیره حده یو شان دي د ژبې ځرګندوالی، خوږوالی، د معنا تحسین او ښکلا په دوه ډوله ده:

١- هغه چې د لفظ سره اړیکي لري.

٢- هغه چې د معنا سره اړیکي لري.

د لفظ سره چې اړیکي لري «فصاحت» بلل کیږي.

او د معنا سره چې اړیکي لري «بلاغت» بلل کیږي.

د دې لپاره چې ښکلې، څرګندې او د وخت او موقع سره برابرې خبرې وپېژنو باید چې «فصاحت» او «بلاغت» وپېژنو.

الصبح سبا ځرگند شو، هر شی چې ځرگند، واضح او خالص وي هغه ته فصیح ویل کیږي.

## د فصاحت اصطلاحي معنا:

فصاحت په کلمه، کلام او متکلم درې واړو کې راځي چې د هریو د په پېژندلو سره یې اصطلاحي معنا ځرگندېږي.

## ۱ – په کلمه (مفرد) کې فصاحت:

په مفرد یا کلمه کې فصاحت دا دی چې غږونه یا توري یې له درې عیبونو څخه خالي وي:

(الف) تنافر.

(ب) غرابت.

(ج) د قیاس مخالفت.

**۱ – تنافر:** داسې غږونو ته ویل کیږي چې په ژبه سخت او دراند وي او په غوږ و نو هم دراندہ لگي لکه:

گروه مې هغه لرغونی دی
اوس هم کرور په لرغونه یم

دايـې تـور داســـــــې د ر وهـوي
زه مــؤمـن ســـتـــاســې پـه تله يـم[۱]

**۳- تعقيد:** په خبرو کې داسې پېچلتيا او غوټه وي چې معنا يې څرګنده نه وي او زياتې پلتنې ته پکښې اړتيا پېښېږي.

لکه:

پـه ويـرژلـو لـورنـه کــــړې پـه زړه کــــراړ يـه
پـــرنــتــلــيــــــــــــو اوروې د غــم نــاتــار

***

هغـه غـور پـه ويرناتار د واکـمن کـښيـوست
هغـه غــورشــو د جـاندم غــوندې ســوراړ[۲]

**٤- تکرار او د اضافتونو زياتوالی:**

لکه: ستاسو د باغ د ختيځ لور ته د ديوال د کوز سر د پښتې د خوا سره د زلمي د ماما د ځوی د کتابونو د بکسې تسمه پرته وه.

## ۳- په متکلم (وينا کوونکي) کې فصاحت:

په متکلم کې فصاحت دا دی چې: داسې ځواک او ملکه ولري چې د خپل مقصود نه پرې څرګند تعبير وکړای شي او د دې مثال په ليکلو کې نه راځي

۱- پټه خزانه: ۷٤.
۲- پټه خزانه: ٤۲.

(ب) په معنا کې سختې او درندې خبرې پکې نه وي.

(ج) داسې خبرې پکې نه وي چې معنا یې څرګنده نه وي او یا د مقام او حال سره مناسبې نه وي.

(د) پېچلې خبرې پکې نه وي

## ۲- په متکلم کې بلاغت:

په متکلم کې بلاغت داد ی چې: داسې ځواک او ملکه ولري چې بلیغې خبرې را ټولې کړي او زړه پورې تألیف او ترکیب ورکړي او د حال او مقام سره مناسب یې استعمال کړي.

د مخکنیو تعریفونو څخه څرګنده شوه چې فصاحت د لفظ پورې اړه لري او بلاغت د لفظ او معنٰی دواړو پورې اړه لري او د دې دواړو منځ کې نسبت د عموم خصوص مطلق دی نو هر بلیغ فصیح دی او هر فصیح بلیغ نه دی بلکه ځینې فصیح، فصیح او بلیغ دواړه وي او ځینې یې فصیح وي خو بلیغ نه وي.

نو د معانیو او بیان په اعتبار کلام ته فصیح او بلیغ ویل کیدای شي.

پښتنو لیکوالانو او أدیبانو کې ځینو صاحبانو بدیع د بلاغت یوه نوعه ګڼلې ده خو دا خبره صحیح نه ده بلکه بدیع یو خارجي شي دی چې د کلام د ښکلا او خایست پوری اړه لري چې تفصیل به یې وروسته راشي.

او د دې لپاره چې کلام بلیغ او ښکلی شي د ځانګړیو بنسټونو

وي او خپل زوی ته وايي: ته بریالی شوی یې.

۳- د مهربانۍ غوښتنه: لکه چې یو څوک وايي: ای ربه زه ستا مهربانۍ ته محتاج یم.

٤- هڅونه: لکه: عالم او جاهل برابر نه دي.

٥- د عاجزۍ څرګندونه: لکه: ای ربه زه بوډا او کمزوری یم.

٦- د افسوس څرګندونه: لکه: د یوه سړي د تاوان نه خلک خبروي خو هغه وايي: ما تاوان کړی دی.

۷- د خوښۍ څرګندونه: لکه: ګرمي ولاړه، هوا ښه شوه.

۸- توبیخ اورټنه: لکه: خلک سپوږمۍ ته وختل، ته لا ویده یې!

۹- د توپیر څرګندونه: لکه: تور او سپین برابر نه دي.

۱۰- ویرول: لکه: د دروغو عواقب ډېر بد دي.

۱۱- فخر: لکه: زه پښتون یم.

۱۲- ستاینه: لکه: ستا خو اخلاقو په ما ډېره ښه اغیزه کړې ده.

۱۳- غندنه: لکه: روسان په افغانستان باندې د یرغل له امله د لوی جرم مرتکب شوي دي. او داسې نور.

راتلل وي لکه چې الله تعالی فرمايي: «او که تاسو د هغه کتاب په هکله شک لرئ چې ما په خپل بنده نازل کړی دی نو دداسې په څېر يو سورت خو راوړئ... »

۷- **إباحت:** لکه چې الله تعالی فرمايي: «کله چې تاسو (په حج کې د احرام نه) حلال شوې نو ښکار وکړئ!. »

۸- **تسويه (برابرول):** لکه: ته لاړ شه يا مه ځه زه خو ځم!.

۹- **تمني (ارزو کول):** لکه: ای د ازادۍ سبا! را وخېژه!.

۱۰- **إکرام (عزت کول):** لکه: مهرباني وکړه دلته کښېنه!.

۱۱- **دوام:** لکه: د مېلمه احترام کوه!.

۱۲- **إمتنان (د احسان څرګندونه):** لکه يو پلار ځامنو ته وايي: کرئ! ريبئ! او خورئ! ډېره مځکه مې درته ګټلې ده.

۱۳- **إعتبار:** لکه يو څوک چا ته ورپېژني او أهميت يې ورښيي: دا وپېژنه!.

۱٤- **إهانت (سپکاوی):** لکه يو چا ته وايي: زمری شه! پړانګ شه!، زه دې پروا نه لرم!.

۱۵- **إذن (اجازه ورکول):** لکه چې څوک دروازه ووهي او ورته ووايي: راځه! يا را ننه وځه!.

۱٦- **تعجب:** لکه: وګوره څومره ښه ښکاري!.

**۱۷- تکوین (کېدل، جوړېدل او پیداکېدل):** لکه چې الله تعالی فرمايي: «وشه یا جوړ شه نو کېږي».

**۱۸- تأدیب (ادب ورکول):** لکه: خپلې مخې کې خوراک وکړه!، وړه مړی واخله!، ځان پاک کړه!.

**۱۹- تخییر (اختیار ورکول):** لکه: یا سبق ووایه او یا کار وکړه!.

## دوهم: نهی

نهی د یوه کار د نه کولو غوښتنې ته ویل کېږي او دا په ۱٤ ډوله ده:

**۱- إستعلاء:** کله چې اعلی أدنی له یوه کار نه الزامي منعه کوي چې مطلب یې د هغه کار په نه کولو مجبورول وي دې ته د استعلاء نهی ویل کېږي لکه الله تعالی چې خپل بنده گان، پیغمبر امتیان، آمر مامور، بادار مزدور او پلار زوی منعه کوي.

**۲- دعاء:** لکه: ای ربه مونږ مه نیسه مونږ په عذاب مه هلاکوه!....

**۳- إلتماس:** کله چې مساوي منع کړې دا د التماس نهی ده.

**٤- إرشاد:** کله: چې منعې کې لارښوونه وي ارشاد بلل کېږي لکه: د بد اخلاقو خلکو ملگرتیا مه کوئ!. چې اړتیا ورته نه لرئ هغه کار مه کوئ!.

**۵- تأدیب:** هغه منع ده چې ادب ورکول پکښې وي لکه: د بل چا مخکې

خوراک مه کوه، چاته کنځل مه کوه!.

**٦- تیئیس (نا أمیده کول):** لکه چې الله تعالی فرمایي: «عذر مه وړاندې کوئ تاسو د ایمان نه وروسته کفر کړی دی.»

**۷- دوام:** لکه: «په الله د ناخبره گمان مه کوه!».

**۸- د پایلې (نتیجې) بیان:** لکه: دروغ مه وایه رسوا به شې!.

**۹- تمني (ارزو کول):** لکه: د ځوانۍ عمرده!، مه تېرېږه!.

**۱۰- تهدید (سختي او زجر):** لکه چې آمر مأمور ته وایي: زما مه منه خوند به درکړي!.

**۱۱- تحقیر (سپک گڼل):** لکه: ځان مه ستړی کوه ته دا کار نه شې کولای!.

**۱۲- کراهت (نامناسب گڼل):** لکه: د سرکونو په غاړو خوراک مه کوئ! د چا سخې ته تو گانې مه تو کوئ!.

**۱۳- إئتناس (مینه تسلي او الفت ورکول):** لکه: خفه نه شې زه دې ملگری یم!.

**۱٤- توبیخ (رټنه):** لکه: چې نه یې شې کولای مه یې وایه!.

# څلورم- تمني

تمني د داسې يوه محبوب شي غوښتنې ته ويل کېږي چې:

الف- حصول يې هيڅ ممکن نه وي بلکه مستحيل (نه کېدونکى وي) لکه چې يو بوډا ووايي: کاشکې ځوان شم!.

ب- حصول يې مستحيل نه وي بلکه ممکن وي خو ډېر ګران او سخت وي لکه يو بې چاره ووايي: کاشکې باچا شم!. د «تمني» لپاره «کاشکې» کلمه استعمالېږي.

او که ديوه محبوب شي ارزو وکړې خو د حصول اميد يې وي نو دې ته «ترجي» ويل کېږي او د «ترجي» لپاره «کېداى شي» الفاظ استعمالېږي لکه: کېداى شي چې عالم شم. يا: مالدار شم. يا بريالى شم. همدارنګه د «اميد» کلمه هم د «ترجي» لپاره استعمالېداى شي.

لکه: اميد لرم چې الله تعالى به را ته بخښنه وکړي.

د – د نوم نه مخکې «ای» او وروسته «ې» راوړل کېږي لکه: ای زینبې!.

هـ – د ځینو نومونو د اخري حرف نه مخکې «الف» زیاتېږي لکه: وا گلالۍ!. شیرینۍ!.

## مبتدا او خبر یا مسند الیه او مسند

**مبتدا د خبرې هغه پیل دی چې د هغې په هکله پرېکړه کېږي. او خبر هغه** پای دی چې د همدې پرېکړې لامل وي.

بېلگې:

۱ – احمد ولاړ دی.

۲ – ستوري ډېر دي.

۳ – وریځ نشته.

پورتنیو دری جملو کې: «احمد»، «ستوري»، «وریځ» هر یو مبتدا بلل کېږي چې د خبرې پیل پرې شوی دی خو خبره پوره نه ده؛ که مونږ د «احمد» سره «ولاړ دی» یوځای کړو او ووایو: احمد ولاړ دی؛ نو خبره پوره شوه او مونږ د یو کار نه خبر شو چې هغه د احمد ولاړ ده. او که یواځې «ستوري» ووایو خبره پوره نه ده او د ستورو په هکله موکومه پرېکړه نه ده کړې خو که «ډېر دي» ورسره یوځای کړو او ووایو: ستوري ډېر دي. نو خبره پوره شوه او مفهوم یې افاده کړ چې د ستورو ډېروالی دی همدارنگه که ووایو: «وریځ» نو

زمونږ ذهن ته د يوه نوم مسمى راځي خو د هغې په هکله کومه پرېکړه نه ثرګندېږي خو که « نشته » مو ورسره يوځای کړ او وموويل: « وريځ نشته » نو جمله پوره شوه او مونږ ته يو مفهوم ثرګند شو چې د وريځ نشتوالی دی.

د مبتدا او خبر نور نومونه هم شته لکه: « محکوم عليه او محکوم به » يا د معانيو د علم په اصطلاح: « مسند اليه او مسند » يا د منطق په اصطلاح: « موضوع او محمول ».

ثرنګه چې زمونږ زياتې خبرې په مبتدا او خبر مشتملې دي نو له همدې أمله يې د ځينو احوالو او احکامو يادونه کوو:

# ذکر او حذف

« ذکر » يادونې ته ويل کېږي او « حذف » غورځونې ته ويل کېږي د يوه معنا لرونکي لفظ يادونه کله ضروري وي او کله کله د يوې قرينې له أمله د جملې نه غورځېږي.

هغه ځايونه چې د مبتدا ذکر پکې لازمي دی دا دي:

**١- ټينګار او ثرګندونه:** لکه: احمد ښه سړی دی، احمد وفادار دی.

**٢- په مخاطب رد:** لکه يو ملحد ووايي: الله نشته او ته ورته په جواب کې ووايې: الله شته.

**٣- کله چې مخاطب په خبره پوه نه شي:** نو په دې صورت کې هم بايد

٦- «**همدا**»: لکه: همدا زه یم چې دی کار ته مې تن ورکړی دی.

٧- «**هیڅ**»: لکه: زه هیڅکله دروغ نه وایم.

٨- «**قسم اخیستل**»: لکه: والله چې دا کار وکړم یا ونه کړم.

٩- «**بې شکه**»: لکه: الله(ج) بې شکه یو دی.

١٠- «**پام**»: لکه: پام کوه چې دا کار ونه کړې.

١١- «**زخت**»: لکه: زخت ډېر باران وشو، زختې ډېرې اوبه راغلې.

١٢- «**کنه**»: لکه: زه داسې کوم کنه.

١٣- «**خورا**»: لکه: خورا ډېرې اوبه مې وڅښلې.

١٤- «**چور**»: لکه: غنم چور ختم شول.

١٥- «**هر**»: لکه: ښه خوی هر څوک خوښوي.

١٦- «**سوچ**»: لکه: زمری سوچ لېونی دی.

١٧- «**پخپله**»: لکه: زه پخپله دا کار کوم.

١٨- «**هو به هو**»: لکه: زلمی هو به هو بریالي غوندې دی.

١٩- «**کټ مټ**»: لکه: دا کټ مټ هغه غوندې دی.

٢٠- «**په ځان**»: لکه: دا په ځان هماغه دی.

٢١- «**تک**»: لکه: تک سور، تک شین. (د «ت» په زور کې).

٢٢- «**هډو**»: لکه: هډو نه راځم. (د ښکښنیو پښتنو اصطلاح ده).

٢٣- «**د سره یا له سره**»: لکه: د سره بې چې ونه کړې.

یا «شه» یعنی ستا خبره مې ومنله او دا کار کوم.

**٤٧- «ز» د «ما» او «مونږ»:** سره چې سرکې یو ځای شي د ملکیت او اضافت معنا ورکوي لکه: زما کتاب، زمونږ کور.

**٤٨- «س»** د «تا» او «تاسو» سره چې سرکې یو ځای شي د ملکیت او اضافت معنا ورکوي لکه: ستا قلم، ستاسو کلی.

**٤٩- «ېږي»:** د صفت او ځینو مصدرونو په اخر کې راځي چې کله لازم او کله ورسره مخکې توری د مصدر نه غورځوي؛ دواړو (صفت او مصدر) نه د مضارع (حال او راتلونکې) فعل جوړوي؛ کله مطلق وي او کله کله د استمرار معنا ورکوي چې د سیاق او سباق او برخیزونو نه څرګندېږي.

لکه: لویېږي، غټېږي، شرمېږي، کېږي.

**٥٠- «و»:**

الف- د امر لپارد راځي لکه: وکړه، ووایه، ومینځه، ولیکه، وشړه.

ب- د اخبار لپاره راځي لکه: ویې کړ، ویې نه کړ، ودرېده وغړېده، وخوړل شو، و نه خوړل شو، ووهل شو، وشو، و به یې کړي، و به شي و به نه شي.

**٥١- «لره»:**

الف- د «ته» په معنا راځي لکه: هغه لره مې قلم ورکړ.

۶۹- «ځنې» د څخه په معنا راځي لکه:

له هغــــه ځنې ځــــارېږم

چې دردمند په خــــپل ملت وي

او د «بعضې» په معناچې راځي هغه «ځینې» دی.

۷۰- «وال، واله»: د نسبت لپاره راځي لکه: کوټوال: کوټ ته منسوب.

کوټواله: مؤنث لپاره.

۷۱- «نی، نۍ»: د نسبت لپاره راځي لکه: ببگانی، پخوانی،

لواړگینی، اوسنی، ببگانۍ، پخوانۍ، لواړگینۍ، اوسنۍ.

۷۲- «ی، ۍ» د نسبت لپاره راځي لکه: افغانی، پېښوری، کابلی،

افغانۍ، پېښورۍ، کابلۍ.

۷۳- «ور، ورد» د «والا» په معنا او د مصاحبت لپاره راځي لکه: سره

ور، څنبه ور، گیره ور، خبتیه ور، ژبه ور. د مؤنث لپاره «ورد» راځي

(وراو ورد دواړه د «و» په زور کېږدی).

۷۴- «والا»: د نسبت او مصاحبت لپاره او د خاوند په معنا راځي لکه د

پگړۍ والا، کابل والا، موټر والا، د قلم والا.

۷۵- «جوړ»: د احتمال لپاره راځي او د «لکه چې» معنا ورکوي لکه:

جوړ خوښ دی شو. (د ښکښنیو پښتنو اصطلاح ده.)

۷۶- «بویه»: د احتمال لپاره راځي او د «وگنه» او «وکړه» په معنا دی

لکه د خوشحال دا شعر:

۶- «**ګوټې**»: د ښځینه ورکنبود لپاره راځي لکه: غواګوټې، ستن ګوټې، ښځګوټې، چې د غوا، ستنې او ښځې ورکنبودونه دي.

۷- «**ټی**»: د نارینه ورکنبود لپاره راځي لکه: منګوټی زلموټی چې د منګي او زلمي ورکنبودونه دي. او کله کله د تحقیر (سپکاوي) لپاره هم راځي لکه: سموټی، شفوټی، رفوټی. چې د سمیع الله، شفیق الله او رفیق الله ورکنبودونه او تحقیر دی.

۸- «**ټې**»: د ښځینه ورکنبود لپاره راځي لکه: واوروټې، سپینوټې، پېغلوټې، چې د واورې، سپینې او پیغلې ورکنبودونه دي. او کله کله همدا تحقیر هم ګڼل کېږي.

۹- «**ټی**»: د ښځینه ورکنبود لپاره راځي لکه: زانګوټی او پېغلوټی، چې د زانګو او پېغلې ورکنبودونه دي او د تحقیر لپاره هم راځي.

۱۰- «**ړی**»: د نارینه ورکنبود لپاره راځي لکه: کدوړی چې د کدو ورکنبود دی.

۱۱- «**ګوړی**»: د نارینه ورکنبود لپاره راځي لکه چرګوړی، انارګوړی چې د چرګ او انار ورکنبودونه دي.

۱۲- «**ړۍ**»: د ښځینه ورکنبود لپاره راځي لکه: کوزړۍ چې د کوزې ورکنبود دی.

۱۳- «**ګټی**»: د نارینه ورکنبود لپاره راځي لکه: زوم ګټی چې د زوم

شوې (شولې).

ب- د مفرد مخاطب مذکر لپاره راځي لکه: ته بريالی شوې.

ج- د مفردې مخاطبې مؤنث لپاره راځي لکه: ته بريالۍ شوې.

**۵- «شواست، شوئ، شولئ»:**

الف- د جمعې مخاطبو لپاره راځي لکه: تاسو بريالي شواست.

ب- د جمع مخاطباتو لپاره راځي لکه: تاسو بريالۍ شوئ.

**٦- «شوم»**: د مفرد متکلم مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه: زه بريالی شوم يا زه بريالۍ شوم.

**۷- «شو، شولو»** (په درونډ واو): د جمعې متکلم مذکرو او مؤنثو لپاره راځي لکه: مونږ بريالي شو يا مونږ بريالۍ شو. (شولو).

**۸- «شوی»** (په شين خج او زور کی): د غائب مفرد مذکر لپاره راځي لکه: احمد بريالی شوی دی.

**۹- «شوې»** (په شين خج او زور کی): د غائبې مفردې مؤنث او غائباتو لپاره راځي لکه: سعيده بريالۍ شوې ده. شاګردانې بريالۍ شوې دي.

**۱۰- «شوي»** (په شين خج او زور کی): د غائبو مذکرو لپاره راځي لکه: شاګردان بريالي شوي دي.

**۱۱- «دی»**: په اثبات او نفی د حکم کولو نيمخيز دی چې د مفرد مذکر غائب لپاره راځي لکه: دا سړی دی يا دا قلم نه دی.

**۱۷- «یم، یمه»:** په اثبات او نفی حکمي نیمخیز دی چې د مفرد متکلم مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه: زه ناروغ یم یا زه ناروغ نه یم یا زه ناروغه یم یا زه ناروغه نه یم یا (یمه).

**۱۸- «یاستو، یو»:** په اثبات او نفې حکمي نیمخیز دی چې د جمعې متکلم مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه: مونږ ډاکتران یاستو یا یو، مونږ ډاکتران نه یاستو یا نه یو. مونږ ډاکترانې یاستو یا یو، مونږ ډاکترانې نه یاستو یا نه یو.

## دوهم: په لیرې ماضي کښې د اثبات او نفې حکمي نیمخیزونه

**۱- «ؤ» «شوی»** (په شین خج او زوره کی): د اثبات او نفې حکمي نیمخیزونه دي چې د مفرد غائب مذکر لپاره راځي لکه:

الف- گل نواز راغلی ؤ یا گل نواز راغلی نه ؤ.

ب- محمود ناروغ شوی ؤ یا محمود ناروغ شوی نه ؤ.

**۲- «وو» «شوي»:** دیوه نه زیاتو غائبو مذکرو لپاره راځي او د اثبات او نفې حکمي نیمخیزونه دي. لکه:

الف- شاگران راغلي وو یا شاگردان راغلي نه وو.

تورې دې لالا وهې د وړدی دې عبدالله وهي.

٦- کله چې فاعل «مې، دې او مو» ضميرونه وي، لکه: کار مې وکړ، ښه کار دې وکړ، کار مو وکړ.

# صفت او موصوف

صفت هغه نوم دی چې ستاينه غندنه او څرنګوالی څرګندوي او موصوف هغه چا يا هغه شي ته ويل کېږي چې ستايل شوی، غندل شوی او څرنګوالی يې څرګند شوی وی لکه: عالم سړی، چې عالم صفت دی او سړی موصوف دی يا اوږد قلم، اوږد صفت دی او قلم موصوف دی، يا د پر غنم، د پر صفت او غنم موصوف دی.

عربي کې موصوف مخکې راځي او صفت وروسته لکه: رجل عالم «رجل» موصوف دی او «عالم» يې صفت دی يا لکه: قلم طويل، «قلم» موصوف دی او «طويل» يې صفت دی.

که مونږ يې کټ مټ ژباړه وکړو او ووايو چې: سړی عالم. يا: قلم اوږد. نو ښه نه برېښي او د پښتو له قانون نه خلاف ده؛ که وغواړو چې د پښتو د قانون موافق ژباړه وکړو نو بايد صفت مخکې او موصوف وروسته کړو او داسې ووايو: عالم سړی، يا اوږد قلم.

کله کله موصوف مخکې او صفت وروسته راځي لکه:

## ٤- رېشلې (مجمله) تشبیه

دا هغه تشبیه ده چې د ورته والي لامل پکښې څرګند نه وي یاد شوی لکه: شین ګل لکه زمری دی.

## ٥- نږدې سپکه (قریبه مبتذل) تشبیه

دا هغه تشبیه ده چې څرګنده وي او د مشبه نه مشبه به ته ذهن ډېر زر او په اسانۍ سره انتقال کوي او کوم دقت او فکر ته اړتیا نه لري لکه د ښکلي مخ تشبیه چې د سپوږمۍ سره ورکړې یا د اننګو تشبیه د ګلاب سره ورکړې.

ابتذال «سپکاوي» ته ویل کېږي نو دې تشبیه ته ځکه «قریب مبتذل» ویل کېږي چې د ورته والي لامل ډېر په اسانۍ سره او ډېر زر پېژندل کېږي نو په ذهن ډېره سپکه تمامېږي او د فکر او دقت دروند والي ته اړتیا نه پېښېږي.

## د تشبيه ګټې

تشبيه د ډېرو غرضونو او ګټو لپاره راوړل کېږي او دا ټول په مشبه کې وي لکه: تحسين، د پټ حال او وصف څرګندول، نا اشنا اشنا ګرځول د اوريدونكي په ذهن کې ښه کښېنول، درونډ ګڼل، سپکاوی، نادر او سخت ګڼل او داسې نور.

## د تشبيه ځينې بېلګې

تشبيه يو داسې بحر دی چې ساحل نه لري او ځينې مشهورې او مستعمل بېلګې يې دا دي:

لكه: د ښكلي مخ تشبيه د سپوږمۍ سره، د بدرنګ مخ د تبۍ او كارغه سره، د زلفو مارانو سره، د زړه ور د زمري سره، د بې زړه د ګيدړ سره، د مكر جن او چلباز د ګيدړ سره، د كم عقل د خره سره، د جنګيالي او غورځنګي د باز سره، د غفلت د خوب سره، د علم او عدل د رڼا سره، د ناپوهۍ او ظلم د تيارې سره، د كلكوالي د تيګې، اوسپنې، فولادو او سندان سره، د نازكوالي د ګل

او پېروي سره، د لوړوالي د غره او اسمان سره، د ټيټوالي د کندې، کوهي او تحت الثرىٰ سره، د نه کېدونکي، نه پېداکېدونکي او نه راګرځېدونکي د مړي او عنقا سره، د پارېدنې او هيجان د طوفان سره، د غضب، غوسې او عصبيت د اور سره، د سوړوالي د واورې ږلۍ او اوبو سره، د تېز اس د باد سره، د ښو خبرو د مرغلرو سره، د بې ځايه مداخله کوونکي د مچ سره، د ضرر رسونکي د مار او لړم سره، د سخي د حاتم طائي سره، د حريص د کارغه او ګونګټ سره، د ګړندي د باد سره، د سست او سوړ د مېښې سره، د ګرم او تېز د مرچک سره، د بې شرم او سپين سترګي د سپي سره، د ضدي د أبوجهل سره، د رينښتوني د ابوبکر رضی الله عنه سره د عادل د عمر بن الخطاب او عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنهما سره د سخي د عثمان رضی الله عنه سره د زړه ور د علي رضی الله عنه سره د ظالم د حجاج بن يوسف سره.

## عيبجنه تشبيه

ښه تشبيه هغه وي چې بې تکلفه پرې اوربدونکی پوه شي او د شبه وجه ښکاره وي او عيبجنه هغه تشبيه ده چې د شبه وجه او لامل يې ښکاره نه وي؛ يا هغه وجه چې د متکلم مراد وي د تشبيه وجه نه شي ګڼل کېداى؛ يا د شبه وجه ډېره ناوړه سخيفه او بې خونده وي؛ يا په مشبه به کې داسې يو وصف د شبه وجه وښود شي چې هغه په مشبه کې هيڅ نه وي؛ يا د مشبه او مشبه به

## ۱۳- د مظروف نه ظرف اخیستل

لکه: اوبه وڅښې شوې. اوبه خو نه وڅښېږي خو مراد ترې د مځکې، ویالې او یا بل ظرف وچېدل دي.

## ۱٤- د بدل اړیکي

کله کله یوه کلمه یا لفظ استعمال شي او مراد ترې بل لفظ وي لکه: مونځ مې خلاص کړ یا لمونځ مې ختم کړ او د دې ختمېدو نه مراد د لمانځه ادا کول وي.

## ۱٥- د عوض اړیکي

لکه: پېسې مې وخوړې پېسې خو نه خوړل کېږي بلکه مراد ترې هغه شی دی چې په پېسو اخیستل شوی وي.

## ۱٦- د ګوانډیتوب اړیکي

لکه: افغانستان د پاکستان سره خبرې وکړې.

شي. لکه:

«ترکاڼي د بيزو کار نه دی»

دا متل په هغه ځای کې ويل کېږي چې څوک داسې يو کار ته ځان وړاندې کړي چې د وس او استعداد نه يې پوره نه وي.

د دې متل د جوړېدو اصلي کيسه داسې وه چې يوه ترکاڼ په غره کې لرگي وهل د ورځې په اخر کې يو لرگی داسې پاتې شوی دی چې په منځ باندې د چولو او دوه ځایه کولو لپاره يې پکې پانې ټک وهلي دي څه چاود پکې شوی دی او نوريې پری ايښی دی يوه بيزو راغلې ده او په لرگي ناسته ده په پانو يې زورونه کړي دي کله چې پانې وتلي دي چاود سره ورغلی دی او د بيزو د بدن څه پوستکی پکې ښښتی دی سبا چې ترکاڼ راغلی او د بيزو حال يې ليدلی دی پوه شوی چې بيزو پخپله په ځان کړي دي نو پانې يې بېرته ډک وهلي دي او بيزو خلاصه شوې ده په دې وخت کې ترکاڼ ويلي دي چې:

«ترکاڼي د بيزو کار نه دی» نو دا متل پاتې شو. اوس اصلي معنا ترې نه شي اخيستل کېدای خو لکه مخکې مو چې وويل په مناسب ځای کې د استعارې په ډول ويل کېږي او دې ته تمثيلي يا د متل استعاره ويل کېږي؛ د پښتو ټول متلونه تمثيلي استعارې دي؛ کله کله د متل نه پرته هم تمثيلي استعاره را تلای شي لکه:

# بديع

## د بديع لغوي معنا:

بديع په لغت کې هغه مختَرَع او نوي ته ويل کېږي چې مخکنی بېلګه او نه لري.

الله تعالی فرمايي:

«قل ما کنت بدعا من الرسل» ورته ووايه زه پېغمبرانو کې نوی او بې مثاله پېغمبر نه يم(۱) يعنی له ما مخکې هم پېغمبران تېر شوي دي.

او الله تعالی فرمايي:

«بديع السماوات و الارض» «الله بې مثاله د اسمانونو او مځکې پېدا کوونکی دی»(۲) مطلب دا چې الله تعالی داسې اسمانونه او مځکه پيدا کړي دي چې مخکې يې مثال نه ؤ.

او الله فرمايي:

«ورهبانية ابتدعوها ما کتبناها عليهم» «او (نصارا وو) ګوشه نشينی

---

۱- سورة الاحقاف: ۹.

۲- سورة البقرة: ۱۱۷. سورة الأنعام: ۱۰۱.

اتفـــاق راڅــــخـــه ړنګ دی
د دښـــمن را تـه نيــــرنګ دی
اصـــالت تـه مـــو خطر دی
دې ملـت تـه مـــو ضـــرر دی

## ٦- ترافق (همزولي بيتونه)

دوه يا ډېر داسې بيتونه راوړل چې که نيم بيتي يې مخکې وروسته شي هيڅ تاوان نه پېښوي، ټولې يو شان لوستل کېږي او شعر برابر راځي.

بېلګه يې داده:

د بد خـوي وي هر يو کـار د حـرامي
بې شـرمي وي هر کـردار د حـرامي
شــــرارت وي په ديار د حـــرامي
دوه مـخي وي تل روزګـار د حـرامي
د دوکـــې وي هر اقـــرار د حـــرامي
په دروغـــو وي ټينګار د حـــرامي
بې حـــيـــا بې ادب چار د حـــرامي
سـتـرګې ځـيرې تر ځـتـار د حرامي[1]

۱- ځتار: دمقعد کړی.

# ۱۳- قبيح او مليح (برگ)

قبيح او مليح هغه شعر دی چې يو نيم بيتی يې د هر ناوړه او د کنځلو په څېر وي او بل نيم بيتی دومره ښه وي چې د لومړي نيم بيتي معنا هم ورسره سمه شي. بېلگه يې دا ده:

ستا د مور سره يې وکړم
ښه نېکي او احسانونه

نورې د برې بېلگې لري چې ليکل يې مناسب نه گڼم.

# ۱٤- پوخلی (منقوطه)

هغه شعر چې ټول توري يې د ټکو والا وي «پوخلی» بلل کېږي لکه:

جبين چې ټيټ شي
غبږ يې ټيټېږي
پښې يې شي شخې
غبږ يې تښېږي

يا لکه:

وران تاتوبي نن ودان کـــړو په همت
په خـدمت يې کـړو ځـلا ځـلا ځـلا

## ۲۰- تکرار (غبرگون)

په يوه نيم بيتي کې د قافيې غبرگون «تکرار» بلل کېږي. لکه:

نازولي کــې چې نه وې دافــتــاب تاب
مـيږه نه دی کـه پرې راشي د شـباب باب

د تقليـد پر دې په سـترگـو د جـمود مـود
قـيـاسي ابليس و نه کړ د سجـود جـود

## ۲۱- سوال او ځواب

کوم شعر کې چې د دوه تنو مناقشه، مکالمه، مناظره او يو تر بله خبرې وي سوال او ځواب بلل کېږي. بېلگې يې په لاندې توگه دي:

(۱)

خلکو لږ غـرور شئ زه او دی په جنگ يو
هـيڅ يـو تـر بلـه قـنـاعـت نه کـــــــرو
نه يو ځای کېږو سره څنگ په څنگ يو
خـپلو منځـو کـې رفـاقت نه کـرو

***

زه وایم ستر قدرت د یو الله دی
دی وایي روس او امریکا ورسره
زه وایم هر څه کې واکمن هغه دی
دی وایي جاریې شم بابا ورسره

***

زه وایم پرېږده چې عالم پوهوم
دی وایي مه کوه ناپوهه ښه دي
زه روح ناروغو ته دوا ورکوم
دی وایي پام کوه ناروغه ښه دي

***

زه تول جهان متبعین خوښوم
دی یې ړانده مقلدین خوښوي
زه تور ته نه ګورمه سپین خوښوم
دی بې تمیزه ګډ رنګین خوښوي

***

زه مړه سنت ژوندي کول غواړمه
دی وایي پرېږده سر پرې مه خوږوه

زه په توحید قربانېدل غواړمه
دی وایي خپله زندګي جوړوه

***

اوس د انصاف فېصله تاسو وکړئ
چې زه په حقه یم که دا په حقه
ښه فکر و سوچ په دې صفاتو وکړئ
چې دا مسلک به وي د چا په حقه

***

مسلم دوست څه بې انصافي نه غواړي
د چا په حق کې بې باکي نه غواړي

یا دا:

(۲)

زوی: څنګه دې رنګ زېړ دی پلاره چا څخه خفه یې ته
ولې په غوسه یې ته
پلار: رنګ مې ځکه زېړ دی زویه تا څخه خفه یمه
ځکه په غوسه یمه

تر پایه پورې اوږد سوال او ځواب دی(۱).

یا دا:

---

۱- د حق ګونګسی: ٦۰.

خپل پردی به برابر گڼي منصف
د بل حق کې بې باکي نه دی انصاف

دلته منصف او انصاف په اشتقاق کې سره شریک دي او یو په عروض کې او بل په عجز کې راغلي دي.

٤ - د مشابه اشتقاق په ډول لکه:

چې پیدا شوې نا خبر سبا بېگانه
اوس نو ولې له الله شوې بېگانه

دلته یو «بېگانه» په عروض کې او بل په عجز کې راغلي دي او په اشتقاق کې سره ورته ښکاري خو د واړه جلا معنا لري اول دوه کلمې دی «بېگا» او «نه» یعنې «له بېگا څخه» او دوهم یوه کلمه ده چې «بېگانه» پردي او نابلد ته ویل کېږي.

# رد العجز على الإبتدا ء

# (په پیل د لنډې غبرگون)

مخکې مو عجز او ابتدا پېژندلي دي؛ رد العجز على الإبتدا دې ته ویل کېږي چې د دوهمې مسرې لومړی برخه د هغې وروستۍ سره په لاندې څلورو ډولونو یوشان وي:

# رد العجز على الحشو

## (په ډکون د لنډې غبرگون)

عجز او حشو مو مخکې وپېژندل؛ رد العجز على الحشو دې ته ويل کېږي چې دواړو مسرو نه د کومې منځنۍ برخه د دوهمې وروستۍ سره په لاندې څلورو ډولونو يو شان وي:

۱- د غبرگون په ډول:

الف- د اولې مصراعې د حشوې سره د عجز غبرگون لکه:

ځوان هغه چې په ازمېښت کې بريالى شي
شکر دا چې بريالى شوم په ازمېښت کې

دلته «ازمېښت کې» د اولې مصراعې په حشوې کې د بيت د عجز سره غبرگه شوې ده.

ب- د دوهمې مصراعې د حشوې سره د عجز غبرگون لکه:

چې قدم اخلي متين په د بانت
تل کوي به پرمختگ کې پرمختگ

# ۳۱- إكتفاء (بسنه)

«اكتفاء» دې ته ويل كيږي چې شاعر ديوه بيت نه داسې لفظ وغورځوي چې د بيت د نورو الفاظو او چلښت نه څرګنديږي او عقل پرې دلالت كوي لكه:

پوچ ويل او سپک ويل احمق كوي
ژبه هغه ژبه چې د حق كوي

دلته د دوهم نيم بيتي نه د «وينا» كلمه غورځېدلې ده چې په اصل كې داسې دى:

ژبه هغه ژبه چې د حق كوي وينا

د شعري ضرورت له أمله د «وينا» كلمه وغورځېده عقل او چلښت په دې دلالت كوي چې دا كلمه حذف شوې ده.

# ۲- معنوي ښكلاوې (صنايع)

## ۱- توريه

«توريه» مصدر دى په لغت كې پټولو ته ويل كيږي او په اصطلاح كې توريه دې ته ويل كيږي چې څوک په خبرو كې داسې كلمه راوړي چې دوه معنا وې ولري: يوه نږدې وي او د لفظ نه هم څرګنده وي خو دا معنا د متكلم مراد نه

ناوړه کارونه دي چې بشري ټولنه ړنګوي.

په دې کې د دوهمې فقرې اخري لفظ د لومړۍ فقرې د لومړي لفظ سره مناسب دی او نور ټول په همدې ترتیب سر چپه دي.

## ۱۵ - مزاوجه

مزاوجه دې ته ویل کیږي چې دوه داسې فقرې راوړل شي چې یوه شرط وي او بله جزا وي او په دواړو کې دوه دوه وله معناوې وي چې په شرط کې یوه راشي نو په جزاء کې په هماغه ترتیب هغه بله معنا راځي لکه:

که ستا له سترګو اوښکې سپینې څاڅي
زما له زړه نه د رته وینې څاڅي

دلته دوه معناوې دي یو د اوښکو څڅېدل دي او بل د وینې څڅېدل دي اولې د شرط فقرې کې اوښکې وڅڅېدې او دوهمې د جزاء فقرې کې وینه وڅڅېده.

# ۳۷- تلميح

کومې کيسې، پېښې، شعر يا متل ته اشارې کولو ته تلميح ويل کېږي لکه:

د مېوند مـاتې په يو شـعـر فـتـحـه و مـوندله
مـلاله پښـغله په تاريخ کـې له چا نه هېـرېږي

په دې کې د مېوند په جنگ کې د ملالې مشهورې پېښې ته اشاره ده.

# ۳۸- تخلص

«تخلص» دې ته ويل کېږي چې د پيل شوې موضوع نه بلې خواته ووځې خو د واړه موضوع گـانې داسې سره سلېخ او وپېې چې لوستونکی يا اورېدونکی په وتلو پوه نه شي.

ښېلگه يې وروستـه را روان «حمد» دی چې د «حمد» نه د اسلام ستاينې ته وتلی دی خو د مخکې سره څرگند پيل او تړاو لري.

په انسان يې دي بې شمېره احسانونه
چې د عقل يې ورکړی لوی انعام دی

د خپل دوست او هم دښمن روزي رسان دی
د کرم سيوری يې هر چا باندی عام دی

پاک رسول يې ؤ کتاب عملي کړی
دا لامل دی چې هغه ته احترام دی

چې د رب حکم چا نه دی پلی کړی
لعنتي دی رسوا شوی او بدنام دی

چې الله رانه راضي شي په دارينو
مسلم دوست وايي همدا زما مرام دی

د هغه احساس له غره نه هم اوچت دی
چې دردمند په غم فغان د خپل ملت دی

ژوند یې ژوند دی مرګ یې ژوند دی هغه نه مري
مخکې مخکې چې په کار کې د غیرت دی

د هغه نوم تاریخونو کې ځلیږي
چا چې کړی د ټولنې ښه خدمت دی

د یو خبتې څرول یې چې هدف وي
حیواني خوی کې روان په ښه شدت دی

چې د بل په غلامۍ کې ژوندی خوښ وي
مرګ یې ښه دی چې تر ټولو دون همت دی

چې د ننګ په کار کې وروسته پاتې کیږي
بې ایمان دی او بزدل دی او بې پت دی

د الحـــــاد پـه لـور دي تـر پـلـل(۱)
گـــروه دي زمـــونږ وكـــوراوه(۲)
مـــــورږ رونـلـی پـه زيـارنـه(۳)
تـــا پـــه تـــورو تـــوراوه
لرغـــون ولې گـــروهبـــدلي
چـې دي گـــــــوښـی اړاوه٬
هغـــه گـــروه دي اوس آړه كـــړ(٤)
چـــې پـلـــرو دي رڼـــا وه
لـودي ســتـا پـه نـامـه سپک شـو
كـــه هر څـــو مـــو درناوه
نـصـــره نـه مـــويې لـه كـــهـالـه(٥)
لـودي نـه يـې پـه كـــــــاوه(٦)
زمـــورږ رغـــاده ســتـــا د گـــروهـه(۷)
د ورځـلـوی پـه رغـــــــاوه(۸)

۱- ترپلل: لاړې، تيوپ دی كړ، وتښتېدې.
۲- گروه: عقيده. وكوراوه: باطل كړ.
۳- رونلی: رون كړی پاک كړی.
٤- آړه كړ: وادې ړاوه.
٥- كهاله: كورني.
٦- كاوه: كړنه، كولو.
۷- رغا: بې زاري.
۸- ورځلوی: ورځ لوی، لويه ورځ، قيامت. رغاوه: بې زاری.

مځکه شنه لاښونه شنې لمنې شنې سوې(١)
طیلسان زمردي واغوسته غرونه
د نیسان مشاطي لاس د مچېدو دی(٢)
مرغلرو باندی وښکلل ښهونه(٣)
د غټېو لوجنډی خاندي وریدي ته(٤)
زرغونو ښهو کې ناځي زلمي جونه
لکه ناوې چې سور ټیک په تندي وکا
هسې و ګاڼل غټولو سره پسولونه(٥)
مرغلرې چې اور ووخونو لیه(٦)
په ځلا یې سوه رانه خپاره دښتونه
زرغونو مځکو کې ځل کا لکه ستوریه
چې پر هسک باندې ځلېږي سپین ګلونه
سپینې واورې ویلېده کاندې بهېږي
لکه اوښې د مین په ګرېوانونه

١- لاښونه: کمرونه (واړه غرونه) مفرد یې لاښ دی.
٢- نیسان: د پسرلي میاشت ته ویل کېږی. چې د اپریل او حمل سره سمون خوري. مشاطي: له مشط نه دی چې عربي کی ګومنځ ته ویل کېږی لکه ګومنځ چې ویښتان ښکلي او منظم کوی د نیسان میاشت مځکه ښکلې کوي. مچېدو: ښکلولو.
٣- وښکلل: ښکلي کړل.
٤- غټول اوریدی د ګلونو ډولونه دي. جنډی: ګل.
٥- وګاڼل: ښکلي کړل، ګاڼه یې ورواغوسته، و پسولل. پسولونه: ګاڼې مفرد یې «پسول» دی.
٦- وخونولیه: وخونولې و شیندلې.

هر پلورنې ولې بهـــاندې خـــاندي(۱)
له خـوښيـــه سـر وهي لـه سـينګړونه(۲)
هـر پـلـو د ګـلـو وږم دی لـونـلـی(۳)
تـه وارا غـله له خـــتنـه كـــاروانونه(٤)
د مـسيح په پوبه مړو ژوندون بيا موند(٥)
پسرلی مګر مسيح سو په پوکړونه(٦)
له مـړو خـاورو يې آغلی ګل را ويوست(۷)
وچ ښـــديا او غـــريې كـــړ له جنتـــونـه
سړی جاجي چې را مشت كړ را مشتګرو(۸)
ګـهـيـځ چوني چې په بڼ وكـاږغـونـه(۹)
په بر بڼ چې ږغ د چونيو نغوږيده سي(۱۰)
تـه واچندي سـره پـېـودي اشلوكـونـه(۱۱)

دا اوږد قصيده ده چې مونږ په همدې بسنه كوو.

---

۱- بهاندي: بهېدونكې.
۲- له خوښيه: له خوښی. سينګړونه: د كاڼ او ډبرو مځكه.
۳- لونلی: شيندلی، خپور شوی.
٤- تهوا: ته بهَوايې. ختن: چين كې يو ځای دی چې په ښكلا شهرت لري.
٥- پو: دم. ٦- پوكړونه: پوكولو، دمونو.
۷- آغلی: ښكلی. راويوست: را وويست.
۸- جاجي: (خج په اول جيم) فكر كوي «جاجل» فكر كول. را مشت: ساز او سرود.
۹- ګهيځ: سبا. چوني: بلبلې يا عام مرغان.
۱۰- بربڼ: لوی باغ، بڼ باغ او بربڼ په پخوانی پښتو كې لوی باغ ته ويل كېږي. نغوږيده: اوريده.
۱۱- چندي: شاعران. پېو: اوبدل شوي. اشلوكونه: شعرونه.

## د لیکوال لنډه پیژندنه

نوم یې عبدالرحیم مسلم دوست او د پلار نوم یې حاجي عبدالمنان (مرحوم) دی. د حاجي عبدالحنان لمسی او د غازي صوفي محمد عالم- چې په صوفي صاحب عالم گل مشهور ؤ- لمسی دی.

په ۱۳۳۸ هـ. لمریز کال د ننگرهار د کوټ صاحبانو کلي کې زیږېدلی دی؛ په ختېه ستانکزی دی.

لومړنی زده کړه یې د کوټ لاغرجوی په لومړني ښوونځي کې کړې ده، ثانوي او عالي زده کړې یې د مزار أسدیې، د ننگرهار نجم المدارس، پېښور حدیقة العلوم، إسلامي مرکز او الجامعة الأثریه کې کړې دي.

په ۱۳۵۷ هـ. لمریز کال یې هجرت کړی دی، د «إحیاء الدعوة الاسلامیه» په نامه د یوې اداري بنسټ یې اېښی دی، د افغانستان د «لجنة الدعوة و التعلیم» د شورا غړی دی او دلاندینیو مجلو مؤسس او خپروونکی دی:

۱- «زېرې» پښتو او فارسي ژبو کې.

۲- «الإحسان» عربي ژبه کې.

۳- «دعوت» اردو ژبه کې.

PROPERTY OF ACKU
12119

